**د پوښتنو تعداد:( ۶۰ )**

**د پښتنو ډولونه ( تشریحی، څلور ځوابه، )**

**د مضمون عنوان: ( تعلیم وتربیه اسلامی )**

**د اووم ټولګي**

**دتعلیم او تربیې د تشریحي سوالونو کلی:**

**دلومړی سوال ځواب:** حدیث په لغت کې خبرو او هرنوي منځته راغلي شي ته وایي، او په اصطلاح کي له هغه علم څخه عبارت دی چي دپیغمبر صلی الله علیه وسلم قول، فعل او تقریر د متن اوسند له لحاظه څیړي.

**دوهم سوال ځواب:** دحدیث دعلم موضوع د پیغمبر صلی الله علیه وسلم وینا، کړنه اوعمل دی. او دحدیث د علم غرض د پیغبر صلی الله علیه وسلم ریښتیني پیروي ده چي په دواړو جهانونو کې دانسان د سعادت او نیکمرغی لامل ګرزي.

**د دریم سوال ځواب:** له تقریر څخه مطلب دادی چي یو یا څو تنو اصحابو یو کار سرته رسولی وي او یایي کومه خبره کړې وي او پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغي باندي له پوهیدلو وروسته د هغه په باره کې چوپتیا غوره کړې وي.

**د څلورم سوال ځواب: صحابی** هغه چاته وایي چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې لیدلی وي او ایمان یې پرې راوړی وي او دایمان په حالت کې مړ شوی وي.

**تابعي:** هغه چاته ویل کیږي چي داسلام په حالت کې یې له صحابی سره ملاقات شوی وي او په همدې حالت کې وفات شوی وي.

**د پینځم سوال ځواب:** حدیث شریف دوې برخې لري: ۱- متن ۲ – سند

**د شپږم سوال ځواب:** متن له هغو الفاظو څخه عبارت دی چي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له ویناوو، کړنو او تقریر څخه حکایت کوي.

**او سند:** دحدیث راویانو د نومونو له لړۍ څخه عبارت دی.

**اووم سوال:** حدیث دراویانو دشمیر له مخې په درې ډوله دی: ۱ – متواتر، ۲ – مشهور. ۳- احاد.

**دآتم سوال ځواب:** متواتر حدیث هغه حدیث ته ویل کیږي چي دراویانو شمیر یې دومره زیات وي چي اتفاق کول یې په دروغو محال او غیر ممکن وي.

**دنهم سوال ځواب:** احاد له هغه حدیث څخه عبارت دی: چي د راویانو شمیر یې د مشهور اندازې ته نه وي رسیدلی او یا داچي د مشهور حدیث ټول شرطونه پکې پوره نه وي.

**د لسم سوال ځواب:** داحادیثو دلیکلو لومړۍ مرحله د صحابه وو په دور کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته پیل شوه .

**د یوولسم سوال ځواب:** د حضرت عمر بن عبدالعزیز په دور کې، کله چي نوموړی د مسلمانانو خلیفه شو نو تصمیم یې ونیو چي احادیث جمع او تدوین کړي .

**د دوولسم سوال ځواب:** لدی کار څخه دوه لوی هدفونه ؤ: اول ترڅو نبوي احادیث ضایع نه شي. دوهم: داچې په نبوی احادیثو کې دروغ ګډ نه شي.

**د دیارلسم سوال ځواب:** صحیح البخاری، صحیح مسلم، جامع ترمذی سنن نسائي، سنن ابن ماجه، سنن ابی داود.

**څوارلسم سوال ځواب:** (النِیات) دنیت جمع ده قصد او ارادې ته وایی (نَوَی) نیت یې وکړ ( یُصِیبُها) لاس ته یې راوړي.

**د پینځه لسم سوال ځواب:** نیت په لغت کې دزړه قصد او ارادې ته وایي،

**د شپاړسم سوال ځواب:** له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هیڅوک دپوره ایمان خاوند کیدای نه شي ترڅو خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي، کوم چې ځان ته یې خوښوي.

**د اووه لسم سوال ځواب:** حضرت انس رضی الله عنه د مالک زوی د انصارو له جملې څخه یو جلیل القدر صحابي ؤ پوره لس کاله یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کړی او دفقهاوو صحابه وو له جملې څه دی ...

**د آته لسم سوال ځواب:** ( لَا یَظلِمُهُ) پر هغه ظلم نه کوي ( وَلا یَخذُ لُهُ) او هغه یې ملاتړ نه پریږدي ( وَلَا یَحقِرُهُ) او هغه نه سپکوي.

**د نولسم سوال ځواب:** ( البِر) نیکي (حُسن الخُلق) نېک اخلاق ( مَاحَاک فِی صَدرِکَ) هغه څه چې په زړه کې د شک پیدا کړي.

**د شلم سوال ځواب:** نجاست په دوه ډوله دی. ۱ـ حقیقی نجاست. ۲ – حکمی نجاست.

**د یوویشتم سوال ځواب:** نجاست په لغت کې پلیتئ او ناپاکئ ته وایي. او په اصطلاح کې هرهغه شی چې شریعت پلیت بللي وي نجاست بلل کیږي.

**د دوه ویشتم سوال ځواب:** حکمي نجاست په دوه ډوله دی : ۱- لویه بې اودسي. ۲- کوچنئ بې اودسي.

**د درې ویشتم سوال ځواب:** حقیقی نجاست په دوه ډوله دی . ۱- غلیظ نجاست. ۲- سپک نجاست.

د **څلورویشتم سوال ځواب:** اودس دمعینو اندامونو وینځلو او مسح کولو ته اودس وایي.

**دپینځه ویشتم سوال ځواب:** اودس کول د لمنځونو د اداکولو لپاره فرض دی.

**د شپږم ویشتم سوال ځواب:** داوداسه فرایض څلور دی. ۱- دمخ وینځل. ۲- دلاسونو پریمینځل له څنګلو سره. ۳ – دسر د څلورمي حصي مسحه کول. ۴- د پښو مینځل له ښنګرو سره.

**د اووه وشتم سوال ځواب:** تمیم په لغت کې قصد، عزم او ارادې ته وایي. او په اصطلاح کې په مخصوصه طریقه په پاکو خاورو باندې ( دطهارت به نیت) دمخ او لاسونو مسحه کولو ته تیمم وایي.

**دآته ویشتم سوال ځواب:** صلاة په لغت کې دعا ته ویل کیږي. او په اصطلاح کې : له مخصوصو اقوالو او افعالو عبارت دی چې په تکبیر سره شروع کیږي او په سلام باندې ختمیږي.

**د نهه ویشتم سوال ځواب:** دلمانځه مکروه وختونه: ۱ – دلمر ختلو وخت. ۲- د زوال وخت . ۳ – دلمر سترګه چې کله زیره شي. دلمر تر ډوبیدو پورې.

**د دیرشم سوال ځواب:** په آذان کې اووه شیان سنت دي. ۱ – مؤذن باید صالح، امین او دلمانځه وختونه وپیژني. ۲ – مؤذن ته ښایي د آذان کولو پر مهال اودس لرونکی وي. ۳ – مؤذن به آذان په ولاړه کوي. ۴ – مخ به یې قبلې ته وي . ۵ – خپلې ګوتې باید په غوږو کې واچوي ۶ – مؤذن باید دآذان اقامت ترمنځ فاصله راولي.

**داووم ټولګی دتعلیم او تربیی څلور ځوابه سوالونه:**

**اول سوال:** نبوی سنت دشریعت څووم مصدر دی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**دوهم سوال:** حدیث په اعتبار دراویانو په څو قسمه دی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**دریم سوال:** متواتر حدیث څو شروط لری؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**څلورم سوال:** داحادیثو دعلم تدوین دکوم خلیفه په وخت کی شروع شو؟ الف: حضرت عمر بن عبدالعزیز . ب: حضرت ابوبکرصدیق، ج: حضرت عثمان . حضرت علی.

**پینځم سوال:** داحادیثو مشهورکتابه څودی ؟ الف: ۳ ب: ۴ ج: ۵ د: ۶

**شپږم سوال:** عمر بن الخطاب دمسلمانانو څووم خلیفه دی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**اووم سوال:** حضرت عمر بن الخطاب رض دنبوت په څووم کال مسلمان شو؟ الف: ۳ ب: ۴ ج: ۵ د: ۶

**آتم سوال:** حضرت عمربن الخطاب رض دهجرت په څووم کال په شهادت ورسید؟ الف: ۲۱ ب: ۲۲ ج: ۲۳ د: ۲۴

**نهم سوال:** حضرت عمر بن الخطاب رض په څو کلنی کی په شهادت ورسید؟ الف: ۱۰ ب: ۱۱ ج: ۱۲ د: ۱۳

**لسم سوال:** حضرت انس بن مالک رض څو کاله درسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت وکړ؟

الف: ۱۰ ب: ۱۱ ج: ۱۲ د: ۱۳

**یوولسم سوال:** دابوهریره ض اصلی نوم څه وو؟ الف: عبدالرحمن ب: عبدالله ج: عبد العزیز. د: عمر

**دوولسم سوال:** حضرت ابوهریره رض دهجرت په څووم کال مسلمان شو؟ الف: ۴ ب: ۵ ج: ۶ د: ۷

**دیارلسم سوال:** حضرت نواس بن سمعان په کومه ځمکه اوسیده؟ الف : مکه مکرمه ب : مدینه منوره ج : عراق د : شام

**څوارلسم سوال:** حضرنواس بن سمعان له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څو احادیث روایت کړیدی؟ الف : ۱۷ ب : ۱۸ ج : ۱۹ د : ۲۰

**پینځه لسم سوال :** طهارت په څوقسمه دی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**شپاړسم سوال:** نجاست په څو قسمه دی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**اووه لسم سوال:** حکمی نجاست په څوو قسمه دی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**آته لسم سوال:** حقیقی نجاست په څو قسمه دی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**نولسم سوال:** داوداسه فرائض څودی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**شلم سوال:** دتیمم شروط څودی؟ الف: ۲ ب: ۳ ج: ۴ د: ۵

**یوویشتم سوال:** په پټی باندی دمسح کولوحکم څه دی؟ الف: فرض دی. ب: واجب دی. ج: سنت دی . د: مستحیب دی.

**ددوه ویشتم سوال:** دلمانځه فرائض څودی؟ الف: ۳ ب: ۴ ج: ۵ د: ۶

**دری ویشتم سوال:** سنت په څو ډوله دی؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**څلورویشتم سوال:** دسجده تلاوت حکم څه شی دی؟ الف: فرض دی. ب: واجب دی. ج: سنت دی. د: مستحب دی.

**پینځه ویشتم سوال:** پت پرستی دکوم پیغمبر په وخت کی پیل شوه؟ الف: حضرت موسی عی ب: حضرت عیسی ع ج: حضرت ابراهیم ع د: حضرت نوح ع

**شپږویشتم سوال:** دپت پرستانو پخوانی بتان عبارت له کومو بوتانو څخه دی؟ الف: لات ب: منات ج: عزا د: ټول صحیح دی.

**اووه ویشتم سوال:** داسلام دظهور په وخت کی دجزرة العرب حاکمان په څو قسمه وو؟ الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**آته ویشتم سوال:** دعبد المطلب په وخت  کی دکعبی شریفی په هکله څو مهمې پیښی رامنځ ته شوی؟

الف: ۱ ب: ۲ ج: ۳ د: ۴

**نه ویشتم سوال:** دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دمور څخه وروسته کومی ښځې ده مبارک ته شیدی ورکړی؟ الف: حلیمه سعدیه ب: ثوبیه ج: ام ایمن د: ام فروه.

**دیرشم سوال:** حضرت بی بی خدیجی رض درسول الله سره څو کاله تیرکړل؟ الف: ۲۲ ب: ۲۳ ج: ۲۴ د: ۲۵